DAILY
اراده

سال چهارم شماره ۲۳۹
شماره مسلسل ۵۹۸
یکشنبه ۳ عقرب ۱۳۸۳هش
۱۰ رمضان‌المبارک ۱۴۲۵ ه ق
24 October , 2004

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹هش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

حمله انتحاری در کابل

سه کشته، شش زخمی

یک حمله انتحاری در کابل سه کشته و شش زخمی بجا گذاشت.

جنرال بابه جان قوماندان امنیه کابل در یک مصاحبه تلویزیونی گفت: این حمله انتحاری در کوچه مرغ فروشی شهر نو حوالی ساعت سه و نیم بعد از ظهر بوقوع پیوست که از اثر ان حمله کننده جابجا هلاک وشش نفر دیگر علاوه بر دوسرباز مربوط نیروهای آیساف که یکی آن تبعه کشور فرانسه اند مجروح گردیده است. سایر زخمی شده گانرا افغانها تشکیل میدهند تا کنون هویت حمله کننده که شش بمب دستی را در وجودش عیار کرده بود وسه عدد از آنها منفجر گردیده تثبیت نشده است و تحقیق در زمینه ادامه دارد.

طبق یک خبر دیگریکی ار سربازان آیساف ویک دختر ۱۲ ساله افغان که درین حادثه زخمی شده بودند وفات یافته اند

حامد کرزی با اخذ ۳۴۲۶۸۴۵ رای در صدر جدول کاندیدان قرار دارد



تاریخ اخر شمارش ۲۳ اکتوبر ۲۰۰۴

از مجموع ارای انتخابات ریاست جمهوری کشور بیش از شش میلون و دو صد هزار رای شمارش شده که تخمین زده می شود ۷۷،۵ در صد تمامی ارا باشد نتایج نشان میدهد حامد کرزی با فاصله زیادی از نفر دوم همچنان در صدر نامزد ها قرار دارد وی سه میلون و چهار صد بیست شش هزار و هشت صد چهل پنج رای کسب کرده است. یونس قانونی یک میلون و نود هزار و پنجصد و هفتاد وشش رای یعنی ۱۷،۳ درصد ارا را نصیب خود ساخته است. عبدالرشید دوستم با کسب ۶۸۸۱۹۰ یا ۱۰،۹ در صد ارا در مقام سوم است و حاجی محمد محقق با کسب ۶۶۰۷۷۸ رای یعنی ۱۰،۲ در صد ارا چهارمین نفر است.

ص۴

د لوی او بښونکي خدای په نامه

سر مقاله

بی توجهی به معاشات کارمندان یکی دیگر از نارسایی دولت

دولتها همواره یک سلسله وظایف ومکلفیتهایی دارند که با رعایت آن میتوان نام حاکمیت مردمی ویا غمخوار مردم را بر آن نهاد.

در گذشته دولتها در قبال سایر مکلفیتها و مسوولیتهای خویش تأمین زندگی مامورین و کارمندان دولتی را بحیث یک اولویت درنظرمی داشته اند. اما از یکدهه بدینسو بخصوص باتأسیس دولت های موقت وا نتقالی مسأله تأمین زندگی مردم از صدر مسایل جدی حذف گردید.

کارمندان دولت در گذشته همواره از حقوق وامتیازات معین از جمله معاش، کوپون، اضافه کاری، حق تقاعد وغیره بهره مند بودند. اما در وضع موجوده از اجرای کوپون به دلایل غیر موجه طفره رفته اند، معاش کارمندان رانیز در پایین ترین معیار که به هیچوجه کفاف زندگی کارمند وخانواده اش را نمی کند، معین ساخته اند.

اقتصاد دانان دولتی زمانیکه جنبه های اقتصادی وپرداخت معاشات را سنجش میکردند، معاشات را درحد نخور وبمیر، چنان تثبیت کردند. که هم سیخ سوخت وهم کباب، به نحوی که از یکسو کارمندان پایین رتبه به شدت تحت فشار قرار گرفتند واز سوی دیگر فساد اداری، ارتشأ، سوء استفاده، کار گریزی وبی تفاوتی رانسبت به وظیفهٔ دولتی به میان آورد.

از ین گذشته دولت موجود را از نظر سودمندی آن در اذهان مردم به یک دولت ناکار آمد وغیر فعال تثبیت هویت کرد وضمناً نارضایتی گسترده مردم راسبب شد.

به شهادت مطبوعات مسوولین دولتی همواره از نبود عواید ومدارک اقتصادی ومحدودیت مصارف سخن زدند درحالیکه مبالغ هنگفتی به اشکال وعناوین گوناگون هزینه مقامات عالیرتبه دولتی میشده است.

همه میدانند که خریداری موتر های آخرین سیستم، امتیازات فوق العاده وخرج دسترخوان و همچنان خریداری قیمتی ترین موبل وفرنیچر مصارف رابه اوج آن رسانید.

البته استفاده از چندین موتردست اول وبادیگاردان فراوان با معاشات بلند را هیچ مسوول دولتی وهیچ اقتصاددان کشور محاسبه نکرد که چگونه تدارک می گردد؟

ص۴

مذکرات با طالبان در جریان است

نیروهای ائتلاف به رهبری امریکا در کشور تائید کردند که مذاکرات پشت پرده به هدف جستجوی راه حل مشکلات سیاسی به جای رویا روی نظامی با طالبان در جریان است سکات نیلسن سخنگوی این نیروها گفته است که اقای حامد کرزی رئیس دولت انتقالی درین مورد مشغول گفتگو ها با برخی از سران کشور های جهان است. نیلسن در یک کنفرانس خبری گفت به باور من در نظر است در اینده به جای مقابله نظامی یک راه حل سیاسی با طالبان پیش گرفته شود

ص۴

په وړاندې توګه

کرزی دټاکنو ګټونکی دی

دحامد کرزی دانتخاباتی کمپاین ملګري وايي کرزی ډاډه دی چې سل په سلو کې به دولسمشری ټاکنې دی وګټي. دولسمشر کرزي ویاند حامد علمی وویل: ددوی په ګټه رایې ډېرې زیاتې دی

۴مخ

ترراتلونکی دوشنبې درایو شمیرنې لړۍ پای ته رسیږي

دانتخاباتو دتنظیم دګډ کمیسیون چارواکوویلي چې بنایي تر راتلونکی دوشنبې پورې به دانتخاباتو درایو شمیرنې لړۍ بشپړه شي. دټاکنو دسمون دګډ دفتر ددارالانشأ مرستیال داکتر صادق مدبر وویل: دنولس ولایتونو رایې شمیرل بشپړ شوی ځیني ولایتونه دورځې ترپایه دبشپړیدو په حال کې دي. او ددوشنبې تر ورځې به درایو شمیرنه پای‌ته ورسیږي.

بناغلی مدبرو ویل: یوازې دهغو صندوقونو درایو شمیرل به‌له دغې نیټې دباندې وي چې دولسمشر کاندیدان او دهغوی استازی پرې نیوکې لري اوددریو بهرنیو مختصیصنو پلاوی یې په اړه پلټنې کوي. دا صندوقونه چې شمیر یې څرګند نه دی تر دې مهاله نه دی قرنطین شوی. دکاندیدانو استازی انتقاد کوی چې په دغه صندوقونو کې درایو اچونې پروخت درغلی شوي دي.

کشف و ضبط انبار های اسلحه

پولیس مبارزه با تروریزم وزارت امور داخله موفق به کشف وضبط چهار انبار اسلحه سنگین و سبک از ولسوالی حصارک ولایت ننگرهار شده است. سید انور مجمر احمدی مدیر افکار عامه وزارت داخله گفت که درین ذخیره گاه های اسلحه تعداد زیادی مهمات و دستگاه ها جابجا شده بود که دیروز در معرض دید خبر نگاران قرار داده شد. اقای احمدی گفت در ارتباط با این سلاح ها کسی بازداشت نشده اما گمان می رود که این سلاح ها مربوط به طالبان باشد.

ص۴

د ستگیری سی تن در ارزگان

پولیس ولایت ارزگان بیش از ۳۰ تن را به اتهام ارتباط با طالبان و القاعده بازداشت کرده است. اما مردم محل می گویند که بازداشت شده ها همه افراد ملکی اند و به هیچ گروه ارتباط ندارند. روزی خان قوماندان پولیس ولایت ارزگان گفته است.

ص۴

دو هزار سی دی فلم های غیر اخلاقی از بین برده شد

مسولین امنیتی ولایت ننگرهار حدود دو هزار سی دی تصویری را از بین برده اند. مسولین امنیتی می گویند این سی دی ها حاوی فلم غیر اخلاقی که بشکل قاچاق از پاکستان وارد کشور شده بود از بین برده شد است چندی پیش شورای علما از مقامات دولت خواسته بودند تا جلو ورود چنین فلم ها را به داخل افغانستان بگیرد و به جوانان اجازه ندهند تا چنین فلم ها را تماشا کنند. حامد کرزی رئیس دولت انتقالی هم چندی پیش با صدور فرمانی از مسولین امنیتی خواسته بود که از وارد کردن و پخش ونشر چنین فلم ها جلو گیری کنند.

دبلخ ولایت دنشیي توکو په بازار بدل شوی دی

دمزار شریف پولیس وایي چې تر دوه سوه کیلو ګرامو زیات تریاک یې چې تاکل شوی وو ازبکستان ته قاچاق شي نیولی دی.

پولیس وایي تریاک په یو کور کې خای پرخای شوی وو او بهرته دلیږدیدو پر حال کې نیول شوی دی. دبلخ ولایت امنیتی قوماندان اکرم خاکریز وال وویل چې له تریاکو سره یې دهغه قاچاق وړونکی هم ورمه‌شپه نیولی او دده په وینا هغوی یې دقانون منګولو ته سپارلی دی

۴مخ

خصایل سیاسی زعامت وساختار دولت آینده

حمید پنجشیری

چرخ تاریخ مطابق به جبر زمان در مسیر حرکت بالاخره کالبد متعغن و پوسیده استبداد فرهنگ ستیز و عقبگرا را در هم کوبید واشعه زرین وتابناک فراگیر دیموکراسی برحریم و فضای میهن ما تا بیدن گرفت که در پرتو آن ملت عزیز ما برای اولین بار پس از بیست وسه سال جنگهای میهن سوز تنظیمی از خواب غفلت بیدار شدند، به پا خاستند و در فرجام قیام رستاخیزانه شان اراده ملی خویش را به تمثیل نشستند وبااشتراک وسیع شان در روز هژدهم میزان سال روان در پروسه انتخابات در عمل ثابت ساختند که سیر تحولات دیگر هرگز بوفق مراد میرغضبان وواپس گرایان سازگار نبوده ارتجاع داخلی دارد به ذباله دان تاریخ سرنگون میشود ولی موضوع نهایت اساسی، قابل مکث وسرنوشت ساز پس از نتایج انتخابات این است که ملت ما با چی زعامتی در ساحه عمل ستراتیژیک برنامه های ملی آینده مواجه خواهند بود؟ گرچه سیماها، چهره ها واهداف طویل المدت وکوتاه مدت بازیگران سیاسی ویا کاندیداتورهای معلوم الحال وآز موده شده در انظار بیدار ملت افغان اظهرمن الشمس است و بادر نظرداشت تجارب گذشته دیگر مردم مانباید بیش از این در عمق گرداب لفاظی های اغواگرانه و ملت فریبانه سیاسی مذهبی انحصار طلبان متحجر ودکم اندیش دست وپا بزنند، ملت دیگر بیش از این تحمیل این ندارند که مکتب گریزان تحصیل زده وبی مسلک با احراز پست های آسمان خراش به شیوه نامشروع بزور سرنیزه از خون فرزندان شان بلند منزل ها بسازند، مسکن فقر زده ها را تخریب‌وزمین آنها را غصب وچپاول نمایند. وحکایت شیرپور وکارته وزرا را تکرار و تکرار نمایند.

امروز مجموع ملت اعم از زن و مرد سخت آرزو دارند تا بصورت یکسان موازی‌وهم جهت از مزایای دیموکراسی برخوردار وبا آمیزش فرهنگی جهان مدنی از مزایایی خصایل روشنگرانه وانسان دوستانه آن به نفع صلح، عدالت ، آزادی، ترقی اجتماعی تا مرز تسخیر کیهان به نفع میهن افغان زمین بهره مند گردند نه این که مانند گذشته ها زیر فشار پاشنه های آهنین بنیاد گرایان، محافظه کاران وافراطیون خون آشام دست وپابزنند.

در هر دو صورت زعیمی که به اعتماد د پاک وصادقانه ملت به مسند رهبری جامعه پیش کشیده میشود باید دارای خصایل برازنده آتی باشد.

۱ـ باید حد اقل خصلت روشنگرانه ا نسانی داشته ونباید به معیار تمایلات تعصبات انشعابگرانه ملی با مسایل برخورد نماید به عباره دیگر سیمای روحینه سیاسی شفاف ، بی غش و مبرا از ایدیولوژی های ضد دموکراتیک باشد.

۲ـ نباید با اعمال فشار اراده عقیدت جریان فکری وایدیولوژیک و طرز جهان بینی گروه مربوط خود را از طریق زور بالای حیات ملی وفرهنگ جامعه تحمیل نماید.

۳ـ نباید روی هیچ بهانه یی حقوق وآزادی های زنان ، مادران و خواهران ما را محدود سازد.

۴ـ نباید دیموکراسی را فرهنگ وا رداتی جهان غرب تصور نماید.

۵ـ نباید بخاطر حفظ قدرت زیر تاثیر جنگسالاران بر مصلحت های ضد منافع ملی دست بزند.

۶ـ باید در اتخاذ تصامیم مثبت ملی نه در حرف بل درعمل قاطع عمل نموده وبا شهامت سیاسی خود را با اراده ملت عیار سازد تا به اعتماد ملت حق حرمت ادا کرده باشد.

۷ـ باید بصورت حتم ساختار قضا، ونظام ملکی، عسکری را از وجود خائنین ، جنگسالارن وبی مسلکان پاکسازی نماید.

۸ـ در جهت خدمت به طبقات مظلوم جامعه و ایجاد توازن و تعادل در عرصه های مختلف حیات ملی باید مالکیت دولتی را توسعه وتقویت نماید.

۹ـ باید به امتیازات نا مشروع تنظیم ها واحزاب خاتمه داده و اجازه ندهد تا حکام وسردمداران جنگ افروز تنظیم ها چون میراث خوران جهاد و مقاومت وما دامل العمر از داشته های ملت ودولت خواهان حقوق باشند.

۱۰ مبارزه قاطع و همه جانبه را علیه سبوتاژ ، فساد اداری آغاز وشیوه مسلک سالاری را از مجرای آزمون های عملی در ادارات دولتی رایج سازد.

د هیواد د لویې او نه رغیدونکی پانګې او شتمنی تالان

خوشحال غاځي

دهیواد د ډیرو شمتنیو او پانګو ترڅنګ چې داوږده کړ کیچ او غمیزی په ترخ کې دهیواد دغلیمانو له لوري تالا والا او لوټ کړای شوی یوه هم دهیواد لویه اونه رغیدونکی پانګه دهیواد ځنکلونه دي چې په ډیره بېرحمۍ او بې ساري توګه غوڅ او له منځه یوړل شول. لکه چې ښکاره ده، د هیواد سویل او سویل ختیځ جګ غرونه چې یو مهال دنښترو، څیړیو، او نورو راز، راز ګټورو ونواو بوټو څخه پوښلي وو او دادی د دې ټولو لویو ځنګلونو څخه چې او پراخ والی یې په سل ګونو سل ګونو کیلو متره مربع ته رسیده په اوس کې یو څو دانی په ګوته شمارونې، او واړه واړه نښترو کې پاتې دي چې دا هم په ډیره ناروا او ظالمانه توګه له منځه وړل کیږي او بیا ګاونډی هیواد پاکستان ته د ښکاره لارو، او دمعلوم الحاله وګړو له لوري چې هیڅ ډول نه آسماني او نه ځمکنی احکامو او فرایضو ته غاړه ږدي، لیږدوی ، او د هیواد دا بې ساري شتمنی دهر ورځې په تیریدو سره له منځه وړل کیږي.

ددې الهی لویې پیرزونی څخه یو مهال دپکتیا ولایت په خپلو زرغونو او تاندو ځنګونو چې غرونه او رغونه یې پوښلي وو په ټوله سیمه کې نامتو او پیژندل شوی دپکتیا ولایت د آریوب ځاځیو ولسوالی له ځنګونو څخه ډکه وه نامتو او لوی ځکل منده هیر نومیده. دمنده هیر لوی ځنګل چې د افغانستان او پاکستان قبائیلی سیمو سره په پوله کې پروت دی په جګو جګو او دنګو دنګو نښترونو پټ و د ملت بابا واکنی. په مهال چې خپله هغه هم له نږدې دا زرغونه او سمسوره ځنګل کتلی و نوې ددی ځنګل دژغورنې دپاره یې ډیرو سیمه ییزو وګړو ته په بدل کې دهیواد په نورو سیمو کې ځمکې وویشلی او ډیر وګړي یې له دې سیمې، څخه وکوچول. داد دې دپاره چې دالویه الهی پیرزوینه وژغورل شي. او د المان د هیواد دکارپوهانو په مرسته په دې سیمه کې دځنګونو دساتلو ، روزلو او سمسورتیا دپاره یوه پروژه هم په کار پیل او وګمارل شوه. خو دا سمسوره او زرغونه ځنګلونه او ددې پروژې ټول سامان او ماشینونه دجګړو په مهال ټول له بنیاده له منځه یووړل شول او زموږ ګاونډیو هیوادونو ته څه په رڼا او څه په غلا په ډیره ډارونکی توګه ولیږدول شول، او دا لړۍ لا تر اوسه په ډیره ظالمانه توګه روانه ده.

ځایي وګړي ددې ځنګلونو غوڅول له ډیر ولاملونو څخه یو هم دکاروبار نشتوالی، او په هر کلی کې ځوانانو اوزګار ناستی ګڼي. ددې ډول ورو و رو نښترو کواو څیړیو د آریوب ځاځیو ولسوالی په ډیرو کلیو کې ترستر ګویږی، چې پلورلو ته چمتو دی.

دځاځیو آریوب په سیمه کې ددې ډول تالان او دتنکیو ونو په وهلو کې ځایی څو تنه پخوانی قوماندانان لاس لري. خپل سری قوماندانان له هر یوه موټر څخه تر زرګونو ډالرو پورې خپله برخه ترلاسه کوی. او بیا دهیواد ددې تنکیو ونو لرګي ګاونډیو هیوادونو ته، او بیا له هغه ځایه بیا لیرولیرو هیوادو ته په لوړه بیه پلورل کیږي.

که چیرته دهیواد لوړ پوړی مسوولین په دې هکله جدی اجراات ونه کړی او د دې تالان، چور او چپاول مخنیوی ونه کړی ، او اړوندو څانګو ته اړینې لارښوونې ونه کړی، ډیره شونې ده چې په ډیر لنډه موده کې به دا سیمه له دغه راز شنو او زرغونو ځنګلونو څخه دتل دپاره تشه شي دا به ډیره خواشینونکی خبره وی چې دا سمسوره او هغه دچا په خبره کوچنی کشمیری سیمه په وچه او شاړه سیمه واوړی چې بیا رغونه به یې دتل دپاره ناشونی وی.

له څو اړخونو زموږ خلك د ګواښونو لاندې دي

سهراب بیدار

په هیواد کې له یوې خوا په بیلابیلو ورانو شوو بنسټونو کې دبیا جوړونې په لور داوسنیو مالي امکاناتو او شرایطو په پام کې نیولو سره په نسبي توګه کارونه سرته رسیدلي دي او سرته رسیدلي کارونه دراتلونکي سراسري سوکالي او آرامۍ په برخه کې موږ ته دبري زیری راکوي خو له بلې خوا لیدل کیږي چې دملي او نړیوالو مرستندویه ځواکونو له هر اړخیزو هلو خلو سره سره چې دامن او امنیت دراوستلو او جوړولو په برخه کې یې سرته رسوي امنیت دومره په زړه پورې او خلکو ته دقناعت وړ نه ښکاري دنوې اداري په جوړیدو سره او دملي او بین المللي ځواکونو دشته والي په صورت کې امنیتي مسایل ورځ په ورځ دخرابیدو په لورې روان دي.

دتیر کال په پرتله په روان کال کې امنیتي حالت زیات بې ثباته ښکاري دروان کال دجون په میاشت کې دابساف داطلاعاتو سرپرست پخپله دینه خیر شو او وی وېل چې امنیتي او ضاع بې ثباته ده او دخرابیدو په حال کې ده په سرحدي سیمو کې که له بې امنیتی نه تیر شو چې وجود لري دبادغیس په شمال غرب کې دبی سرحده ډاکترانو **۵** تنه کارکوونکی ووژل شول په کندز کې ۱۱ چینایی کارکوونکی ووژل شول په بدخشان کې بمي چاودنې وشوې او د ښوونځیو سوځول. دی ټولو پیښو د امنیت په برخه کې زموږ د خلکو اندیښنې زیاتي کړې دي خکه چې دا پیښی په داسې کې سیمو کې وشوی چې خلکو یې هیڅ امید نشو کولای ددی پر ځای چې موږ د خپل ژوند ، کار او بوختیا په برخه کې د سراسري امنیت او یووالي په فضا کې ډاډه حرکت وکړو د هرې ورځې په تیریدو سره اندیښمن کیږو ځیني چارواکي هیوادوالو ته د سراسري امنیت او امن په برخه کې ډاډګیرنه ورکوي او په تخریب کاره عناصرو باندی د دولت د امنیتي ځواکونه برتري ښئ که څه هم دا خبره تر یوه ځایه منلای شو زموږ وسله وال امنیتي ځواکونه پیاوړي دي او تر اوسه پورې ښه خلیدلي دي خو لا تر اوسه پورې ددې جوګه شوي نه دي چې د چریکي بریدونو د مخنیوي په برخه کې او د توغندیو د توغولو او د بمونو د ایښودلو مخنینوی او د مجرمینو د نیولو په برخه کې غوڅ اجراات سرته ورسوي په څغرده ویلای شو چې د بې امنیتي مسایل نن سبا په مرکز او هغو سیمو کې هم زیاتیږي چې تر اوسه پورې په کې امنیت ټینګ و او د بې امنیتي هیله ترې نه شوای کیدلی.

موږ په هیواد کې د امنیت مسئله او د هیوادوالو اندیښنې یوازې په یوه خوا یعنې په تروریسټي کړیو پورې نشو خلاصه کولای بلکې د هیواد په خورو ورو سیمو کې تنظیمي سیالی او د مخدره موادو په سوداګرۍ کې ښکیلې کړي هم د امنیت د خرابوالي په برخه کې زیاتې ناوړې نتیجې رامنځته کوي د سیمو تر منځ لا تر اوسه پورې د وسله والو ځواکمنو تر منځ د خپل قدرت د زیات والي او پایداری په خاطر زبنیو ، سمتي، او تنظیمي توپیرونو ته لمنی وهل کیږي د خپلو شخصي ګټو د زیاتوالي او په ملي ګټو د برترۍ په خاطر د توپیرونو رامنځته کولو او په خلکو باندې د سوداګرۍ لپاره لمنی وهل کیږي د تنظیمي سیالیو او د مخدره موادو په شدت سوداګرۍ واکمن چارواکي د سراسري امنیت له فکر څخه ایستلي دي او په واقعیت کې یې د تروریزم د مخربو فعالیتونو د زیاتوالي او په خلکو د ویرې او اندیښنې د رامنځته کولو لپاره زمینه برابره کړې ده.

لا اوس هم د هیواد په اکثره ولایاتو کې د همغه ولایت چارواکي چې په خلکو کې پوره ګوندیزي ریښې ځغلولي اوس د هغوی د اوسنیو کړنو له امله خلك ورسره دومره مینه او ملاتړ هم نه کوي په خلکو کې یې محبوبیت له لاسه ورکړی دی خو دا چې واکمن دي خلك یې له ویرې سر نشي پورته کولای داسې کسانو په خپلو اړوندو ادارو کې خپل ارتباطي کسان په دندو ګمارلي چې د هر ډول اداري فساد د رامنځته کولو په برخه کې لدی امله چې ورته د یوې ورځې لپاره وفاداره اوسي د قانون د تطبیق په برخه کې اجراات نشي کولای ځینې داسې مسوولین چې په توپیرونو کې ښکیل شوي دي د مخربو عناصرو د حرکاتو د تیز والي لپاره یې زمینه برابره کړې ده اوس چې موږ په هیواد کې د نوو بدلونونو د رامنځته کیدو لپاره د بري په درشل کې یو لازمه ده چې د تروریستي ګواښونو او اندیښنو د مخنیوي سره سم پخپله ددې اړخونو او تهدیدونو مخه ونیول شي او د دندو په مشرۍ داسې اشخاص په کار ودرول شي چې مسلکي او د اهلیت په لحاظ ورته ګوته ونه نیول شي او داسې کسان چې د دندو تر څنګ د تنظیمي حرکتونو په لورې میلان ونه لري بلکې د هیواد او خلکو د ژوندانه او سراسري امنیت او یووالي په برخه کې ګړندي ګامونه واخیستلای شي.

پاك او ملي احساس درلودونکي اوسي چې وکړای شي په خپلو کارنده هڅو سره د خلکو په زړونو کې ځای ونیسي او د خلکو له سره ګواښونه لیري شي او ټول په ګډه د سراسري امنیت د رامنځته کولو په برخه کې حرکت وکړي.

متصدی صفحه: نصر بشر

راتلونکی دځوانانو ده

وژنې، قتل، لوټول، ځورونې او تښتونې هغې منفي کړنې دي چې دجګړو دناخوالو په توګه چې دهر راز قانونيت خوايي کمزوري کړی ده راپاتې دي دترهګری ديوې ناولي کړنې په توګه د ماشومانو تښتول په دې وروستيو کې دهيواد په مرکز اوولاياتو کې دومره زيات شوی دي چې ان دهيواد په ولاياتو کې څه چې دهيواد په مرکز کې کله ناکله دخبری رسنيو له لارې يې خبرونه اورو او دتښتول شوی ماشوم انځور دتلويزيونونو له لارې ليدل کيږي خو چې څومره اعلانونه په دې هلکه په خبری رسنيو کې شوی دي لاتراوسه پورې زموږ هيواوالو ته دداسې ماشومانو اوتنکيو ځوانانو دورکيدو څخه دبيا راپيد کيدو په هکله خبرونه خپاره شوی نه دي چې دا تښتول شوي يا ورك شوی تنکی ځوانان چيرې وو چا تښتولی وو دڅه لپاره او څنګه را خوشي شول. او هغه کسان چې دداسې ماشومانو اوتنکيو ځوانانو دتښتولو په جرم نيول شوی بايد هغوی ته دجرم دتثبيت په صورت کې درنې سزاګانې ورکړل شي. اوهيوادوال بايد دتلويزيون له لارې پرې زيات خبر شي.

دماشومانو او تنکيو ځوانانو دتښتولو موضوع نن سباد هيوادوالو او کورنيو سره پوره تشويش او انديښنې رامنځته کړی دی. خو ترکومه ځايه پورې چې په امنيتی او قضايی ادارو پورې اړونده ده کورنۍ هم دخپلو اولادونو دسالمې تربيې او څارنې په باره کې زيات مسووليت لري، کورنۍ بايد تر هرڅه زيات دخپلو اولادونو دڅارنې او کنټرول په باره کې خپلو مسوولينو ته ځير شي اوسرته يې ورسوي.

کورنۍ او دهغوی مسوولیتونه

نن سبا زموږ تنکی ځوانان ديرون او پخوا په پرتله په هيواد کې دننه دخپلو خپلوانو سره زياتې اړيکې لري او دتګ راتګ په لارو کې هم پوره بلدتيا لري ان چې دځينو خلکو خپلوان په ګاونډی هيواد پاکستان کې هم اوسيږي زياتره کورنۍ له خپلو اولادونو سره دناسم او قهرجن چلند له امله له دووستونزو سره مخ کيږي لومړی دا چې اکثره تنکی ځوانان دخپلو کورنيو دځينو مسوولينو د قهرجن چلند او ديکتاتورانه حرکاتو له امله له خپل کور څخه تيښته غوره ګڼي دخپلو نږدې خپلوانو کره ځي او ځينې دخپلو کورنيو دناوړه چلند اويا خودخپلو کورنيو دنه څارنې او بې پروايی له امله په مخدره موادو او نيشو باندې عادت کيږي دنيشو په لوګيو کې ځانونه پټوي او ورو ورو په يوه نيشه يی باندې بدل شي.

په پورتنيو دواړو حالاتو کې کورنۍ دخپلو اولادونو په هکله زيات مسووليت لري نو ويلای شو چې دماشومانو او تنکيو ځوانانو دورکيدو او تښتونې په برخه کې که له يوې خوا دترهګرو شته والی موجود دی چې دنيولو په صورت کې دسختو سزاګانو په ورکولو سره دداسې مجرمينو اندازه کميدای شي او دهيوادوالو دتشويشونو اندازه به راکښته شي او له بلې خوا بايد کورنۍ هم دخپلو اولادونو دڅارنې او کنټرول په دې برخه کې جدی اوسي او ورسره بايد له ديکتاتورانه حرکاتو څخه ځانونه وساتي څو وکړای شي خپل اولادونه دسالمې تربيې له لارې ښه وروزي. زياتې داسې کورنۍ هم شته چې دټولې ورځې په جريان کې له خپلو اولادونو څخه خبرنه لري او په هغو ځايونو کې چې ددوی اولادونه درس وايي اويا خو حرفوی زده کړې کوی له ټاکلو ادارو او مسوولينو سره ارتباط نه لري له هغو ادارو څخه دخپلو اولادونو دکړو وړو، اعمالو او اخلاقو پوښتنه نه کوی ويلای شو چې په دې برخه کې پوره بې پروايی موجوده ده چې بايد له مسوولو ادارو سره يو ځای کورنۍ ورته متوجې اوسي او تل دخپلو اولادونو څارنه او خپله دنده وګڼي.

ولې زموږ په ښوونځيو کې بې نظمي ده؟

دا به ومنو چې زموږ تعليمی سيستمونه دبيارغونې په حال کې دي او نن سبا چې دښوونځيو دروازې دانجونو اوهلکانو لپاره پرانستل شوی دی او څه دپاسه پنځه ميليونه زده کوونکی چې دريمه برخه يې انجونی دی دښوونځيو په لورې دلوست لپاره روان دی خو سره له دې کيفی ګراف دصفر خواته تقرب کوی په زياتو ښوونځيو يو ثابت وخت دحاضری اورخصتی په باره کې که څه هم معلوم دی خو هيڅ وخت لايحه نه تطبيق کيږي. شاګردان ځی راځی له ټولګی څخه زده کوونکی په بيلابيلو پلمو په اجازه او بې اجازې ووځی په دهليزونو او دښوونځی په انګړنو کې ګرزي. او يا خو له ښوونځيو بهر بازار ته روان وی دمحرومۍ په صورت کې له داکترانو بی سنده تصديقونه راوړی او دښاری ښوونځيو درياست مسوولين پرته له دې چې په ښوونځی کې بې دناروغی رقعه معامله شوی وی يې ورته لاسليك او ټاپه کوي.

دغه راز دګوتو په شمير زده کوونکی دبدمعاشی په اکټونو سره ټولګی ته دتګ راتګ په هکله خپل اختيار لري اودښوونکو دمخالفت په صورت کې ښوونکی له ستغو سپورو سره مخامخ کيږي.

ښوونکی له دې امله چې لايحه نه تطبيق کيږي ځانونه يې دنظم او دسپلن په باره کې بې پروا کړی دی او يوازې دخپل حيثيت دساتلو لپاره ورځې تيروی.

پوښتنه داده چې په دې وروسته پاتې ټولنه کې چې دراتلونکو کادرونو دروزلو لپاره اړتيا لرو څنګه کولای شو چې په ښوونځيو کې اوسنۍ بی نظمی ختمه او معارف جوړولو ته تيار کړو.

دليکوونکی په عقيده څومره چې له ښوونې او روزنې سره سروکار لرم ويلای شم چې زموږ په دې وروسته پاتې ټولنه کې دزده کړی په برخه کې اوسنۍ لايحه زموږ دتعليمی غوښتنو لپاره ځواب نشی ورکولای له يوې خوا په تعليمی لايحه کې کمزوری او داسې سزاګانې نه ورکول کيږي چې دنظم او دسپلين ماتوونکی زده کوونکی له ښوونځی خارج او يا جبری سه پارچه ورکړل شي. او دچارو مسوولينو زيات زور په دې اچوی چې له زده کوونکو سره دخبرو له لارې روزنيز کاروشي او يايې له کورنيو سره تماس ونيول شي داسې مسوولين داسې انګيرې چې ګڼې افغانستان دنورو هيوادونو په څير رسيدلی دی او خلك دخبرو له لارې اصلاح کړی او يايې له کورنيو سره تماس ونيول شي او ښوونکی هم دلايحې دتصويب په هکله په جرئت سره دعملی کيدو په برخه کې اجراات نه کوی. او هر يو ښوونکی ځان څنګ ليری کوي. داسې ښوونکی وايي چې د ادارو له خوا سزاګانې نه ورکول کيږي چې نه ورکول کيږي نو څله له يوه داسې زده کوونکی سره چې هيڅ اخلاق نه لري ځان مخامخ کړم. ځينې ښوونکی وايي چې داسې زده کوونکی چې په خپله کورنۍ باندې هم خپل چورت نه خرابوی او نصيحت هم نه اوري بايد داسې کسان له ښوونځيو څخه خارج شي.

خو ترکومه ځايه پورې چې معلومه ده ويلای شو چې په يو وروسته پاتې ټولنه او هغه هم چې له جګړو راوتلی وی په تعليمی سيستم کې دزده کوونکو کيفی سطحه دخبرو او نصيحتونو له لارې نه شي لوړيدای تر هغه پورې چې ديکتاتورانه حرکات نه وی څکه چې په وروسته پاتې ټولنه کې له ديکتاتورۍ پرته دموکراسی دزهرو دورکولو مانا لري موږ هيڅکله له ديکتاتورانه حرکاتو پرته خپل تعليمی سيستم کيفی سطحې ته نشولوړولی.

په تیره اونۍ کې

دکابل دښوونې او روزنې دپوهنتون غير موقوتی خپرونې "روشان" ليکلی چې دعلمی څيړنو او فرهنګی مطالعاتو دعالی کميسيون ديوې غونډې په ترڅ کې برسيره پردې چې دتدارك دکميټې هدف بيان شو او په تشکيلاتی چارو بحث او خبرې وشوې دنوموړی غونډې دپريکړې له مخې ښاغلی جمهور رئيس دعلمی څيړنو او فرهنګی مطالعاتو دعالی کميسيون دافتخاری رياست دنده په غاړه اخلي.

****

په هيواد کې دبيا جوړولو او جوړولو دبيلابيلو خواوو ترڅنګ دښوونځيو دپرانيستلو او بيا جوړولو په برخه دکارونو په دوام په تيره اونۍ کې د کندهار د ډنډ په ولسوالۍ کې دشهيد محمد قاسم منځنی ښوونځی. دامريکا متحده ايالاتو دبيارغونې دټيم په مالی مرسته په يوه پوړيزه توګه جوړيږي.

****

دکابل له پوځی مرکز څخه دملی اردو دځوانانو پنځه ويشتمه دوره فارغه او دمراسمو په ترڅ کې دزده کړې سندونه ورکړل شول په دې فارغانو کې ۸۳ تنه افسران ۱۵۴ تنه واړه ضابطان او ۷۱۹ تنه ځوان سرتيري دي چې دهيواد او خلکو د خدمت لپاره وړاندې شول

****

دکوارتريګا هغه جايزه چې دالمان د برلين په ښار کې ولسمشر حامد کرزی ته ورکړل شوه دهيواد دمرکز او ولايتو ۳۳ ممتازو زده کوونکو ته به وويشل شي چې دنوموړی جايزې پيسې ۲۵ زره يورو کيږي.

****

دلوړو زده کړو وزارت داکاډميکی چارو دکميسيون بورد د پوهنتونونو دپرمختيايی پلانونو او پروګرامونو ديو خپل والی په خاطر درسمی مصوبو په ترڅ کې څرګنده کړې ده چې په بهر کې يې دافغان تحصيلی موسسو جوړول او دوام منع دی. له دې امله ددغه وزارت په يوليك کی راغلی دي چې دپيښور کې داريانا پوهنتون غير قانونی دی. له اوس څخه دمحصلينو دفراغت دسندونو په ګډون چې په راتلونکی په ترسره شي ددغې موسسې بی باور والی اعلانوی.

*****

په افشارو کې دمنځنی ښوونځی نوی ودانۍ دجاپان هيواد په مرسته د ۱۳۰۸۳۷ امريکايی ډالرو په لګښت بشپړه او دزده کړې لپاره چمتو شوی ده.

دستیار ابومصعب الزرقاوی دستگیر شد

به گفته منابع آمریکایی یکی از اعضای بلند پایه گروه توحید و جهاد همراه با چند تن دیگر از افراد این گروه طی عملیاتی در شهر فلوجه دستگیر شده اند.مقامات نظامی آمریکا در عراق گفته اند که این فرد، که نام وی فاش نشده، پس از کشته یا دستگیر شدن رهبران گروه توحید و جهاد در جریان عملیات فلوجه به عنوان دستیار ابومصعب الزرقاوی در این گروه فعالیت داشته است.این فرد به همراه پنج نفر دیگر در جریان حمله نیروهای آمریکایی به تعمیري در شهر فلوجه به دست سربازان آمریکایی دستگیر شد.به گفته مقامات آمریکایی، گروه توحید و جهاد، به رهبری ابومصعب الزرقاوی، مسئولیت حملات متعددی از جمله انفجارهای انتحاری، ترور و آدم ربایی در عراق را برعهده داشته و از شهر فلوجه این عملیات را هدایت کرده است.از جمله عملیات گروه توحید و جهاد دست زدن به یک بمب گذاری انتحاری بوده که سی کودک در جریان آن جان خود را از دست دادند.توحید و جهاد تعدادی از گروگان های خود را نیز سربریدن و نواز ویدیویی این اقدام خود را در سایت های اینترنتی منتشر و برای برخی شبکه های تلویزیونی ارسال کرده است.در مذاکرات مقامات دولت موقت عراق با رهبران فلوجه، از اهالی شهر خواسته شد تا به منظور خاتمه یافتن عملیات نظامی علیه فلوجه، ابومصعب الزرقاوی را تحویل دهند اما این درخواست توسط مذاکره کنندگان فلوجه رد شد. همزمان، عملیات نیروهای آمریکایی به منظور پاکسازی شهر فلوجه از گروه های مسلح شبه نظامی ادامه داشته است.در خلال ساعات شب، طیارات آمریکایی به بمباران نقاطی از فلوجه، که محل استقرار شبه نظامیان توصیف شده است، مبادرت کردند.خبرگزاری رویتر از قول اهالی فلوجه گفته است که در جریان این بمباران ها دو نفر کشته و سه نفر دیگر زخمی شدند.در تحولی دیگر، انفجار بمبی که در کنار مسیر عبور یک واسطه نقلیه زرهی آمریکایی در جاده اصلی منتهی به میدان هوايي بغداد روی داد پنج نظامی آمریکایی زخمی شدند.



مذاکرات با طالبان ...

وی افزود من به عنوان یک افسر امریکایی نمی توانم بگویم در این مذاکرات چه می گذرد تنها می توانم بگویم که این مذاکرات جریان دارد و به نتایج ان هنوز باید منتظر باشیم. این نخستین باریست که نیروهای نظامی امریکا اصطلاح حل سیاسی با طالبان را به کار برده اند. به اساس گذارش روزنامه امریکایی لاس انجلس تایمز افراد مطمین از سوی رئیس دولت افغانستان با برخی از سران طالبان که از خط مشی و برنامه های ملا عمر رهبر تحریک طالبان نا راضی به نظر می رسند و علاقمند مشارکت در حکومت و پارلمان اینده اند مشغول مذاکرات و گفتگو اند. به نظر کارشناسان مذاکره با طالبان یکی از مشکلات دولت انتقالی افغانستان بوده که بیشتر اعضای جبهه متحد و وزیران مقتدر کابینه دولت با ان مخالف بودند. به طور کل اعضای جبهه متحد هر گونه مناظره و گفتگو با طالبان را بادیده شک می نگریسته به مشارکت سیاسی طالبان با دولت خوشبین نبودند. پا ادامه مذاکرات نبروهای میان نیروهای امنیتی افغان و ائتلاف با طالبان همچنان ادامه دارد اما برخی به این باور اند که بمنظور استحکام سیاسی دولت اینده مذاکرات همه جانبه در چوکات نظام ریاستی اساس گزاری شده است.

گفته می شود ملا وکیل احمد متوکل وزیر خارجه رژیم طالبان هم اکنون در کابل بسر می برد.

شرق میانه "به سوی هرج و مرج می رود"

یک مقام عالیرتبه سازمان ملل متحد اخطار داده است که مناقشه اسرائیلی ها و فلسطینی ها بدون دخالت جامعه بین المللی حل نخواهد شد.کیه ران پرندرگاست،سرپرست مقام سرمنشي سازمان ملل در امور سیاسی، در گزارشی به شورای امنیت سازمان ملل از "حرکت آرام اما محسوس منطقه به سوی هرج و مرج" سخن گفت.وی هر دو طرف مناقشه را ترغیب کرد از خشونت دست بکشند و وارد گفتگو شوند.وی همچنین اخطار داد که اگر دو طرف به حال خود رها شوند، صلح هرگز تحقق نخواهد یافت.آقای پرندرگاست گفت از زمان آغاز انتفاضه اخیر در ماه سپتامبر ۲۰۰۰، در حدود سه هزار و ۸۳۹ فلسطینی و ۹۷۹ اسرائیلی کشته شده اند.و او تخمین زد که ۳۶ هزار فلسطینی و ۶۲۹۷ اسرائیلی در این درگیری ها مجروح شده اند.وی گفت این ارقام "تاسف آور" ضروری بودن اقدام را فریاد می کشد.وی پرسید: "آیا قرار است این وضع ادامه پیدا کند؟ آیا هیچ راه بهتری وجود ندارد؟".وی گفت هیچ یک از طرفین براساس طرح صلح بین المللی موسوم به "نقشه راه"، به تعهدات خود عمل نمی کند.وی افزود: "حتی گویی سخن گفتن از فرآیند صلح این تصور را پدید می آورد که گوینده با واقعیات جاری در تماس نیست."

مقابله آزاد شدگان گوانتانامو با نیروهای امریکایی

وزارت دفاع آمریکا از دست داشتن تعدادی از زندانیان سابق زندان گوانتانامو در عملیات مسلحانه علیه نیروهای آمریکایی خبر داده است.به گفته منابع پنتاگون – وزارت دفاع آمریکا – براساس گزارش های به دست آمده حدود ده نفر از کسانی که پس از مدتي بازداشت به اتهام ارتباط با تروریزم از زندان گوانتانامو آزاد شدند در نبرد با نیروهای آمریکایی و متحدان آنان در افغانستان شرکت داشته اند.این منابع افزوده اند که تعدادی از این افراد در جریان مقابله با نیروهای آمریکایی کشته شده اند.پنتاگون یکی دیگر از زندانیان سابق گوانتانامو را نیز متهم کرده که در گروگانگیری دو انجینر چینی که در اوایل ماه جاری در پاکستان ربوده شدند مشارکت داشته است.ایالات متحده حدود ششصد نفر را به گمان ارتباط با رژیم سابق طالبان در افغانستان و شبکه القاعده و شرکت در عملیات مسلحانه و اقدامات تروریستی در پایگاه نیروی دریایی آن کشور در خلیج گوانتانامو در کیوبا زندانی کرده است.این افراد، که تحت عنوان دشمنان مسلح غیرنظامی در بازداشت به سر می برند، از دسترسی به امکانات قضایی رایج در خاک آمریکا محروم هستند.مقامات آمریکایی بازداشت شدگان را اسیر جنگی نمی شناسند و از اجرای قوانین ناظر بر اسیران جنگی در مورد آنان خودداری ورزیده اند.نحوه رفتار دولت آمریکا با گوانتانامو باعث انتقاد شدید گروه های مدافع حقوق بشر شده است.تا کنون، مقامات آمریکایی تعدادی از این افراد از جمله چند افغان را آزاد کرده و گفته اند که آزادی آنان دیگر خطری را متوجه امنیت ایالات متحده نمی کند.وزارت دفاع آمریکا، با اشاره به گزارش اخیر، گفته است که اطلاعات به دست آمده نشان می دهد که آزادی زندانیان در گوانتانامو بدون خطر نیست.

د بلخ ولایت د ...

د افغانستان شمالی ولایتونو هم پدې دوو وروستیو کلونو کې دنشيي توکو دتولید پر لوی مرکز اوښتی دی. کروندګر وایی چې دوی دخپل اقتصادي ستونزو او بې وسيو له وجې ترياك كري.

همدا اوس دبلخ ولایت دیو شمیر ولسوالیو مرکزونه دنشيي توکو پر مارکیټونو اوښتی دی دا دتیر کال دکوکنارو دفصل تولید دی چې دغو مارکیټونو کې پلورل کیږي او په اونی کې دوه ورځې بازار لري چې قاچاق کوونکی دبېلابېلو ځایونو څخه راځي او معاملې کوي.

حامد کرزی با ...

مسعوده جلال همچنان روزهای گذشته در حد یک در صد ارا باقی ماند و بعد از لطیف پدرام در جایگاه ششم قرار دارد. اسحق گیلانی که استعفاء داده شصت هزار رای کسب کرده سایر نامزدها نیز در ردیف های بعدی قرار دارند، تاکنون هشتاد هزار ورقه رای نیز باطل اعلام شده است. کار شمارش ارا در یازده ولایت پایان یافته در ده ولایت دیگر بیش از هشتاد در صد انجام شده و در بقیه ولایات نیز بین بیست تا چهل در صد پیش رفته است.

دستگیری سی . . .

که انها این افراد را در منطقه پیشی ناو بازداشت کرده اند. در این عملیات در ان منطقه بعد از ان صورت گرفت که یک تانک نیروهای بین المللی ائتلاف در اثر برخورد با یک ماین کار گذاری شده از سوی طالبان از بین رفت. روزی خان گفت که ممکن است درمیان افراد بازداشت شده کسانی باشد که ان ماین را کار گذاشته اند. او همچنین افزود که اگر مردم محل باطالبان و گروه های مخالف دولت پناه ندهند انها نمی توانند به فعالیت شان ادامه بدهند.

کرزی د تاکنو . . .

او کرزی به بریالیتوب ته ورسوي. پداسې حال کې چې په ځینو ولایتونو کې درایوشیمرنه پای ته رسیدلې او په ځینو کې پای ته نږدې شوې دکرزی په پلوی درایو فیصدی ۵۴،۴ په سلو کې جوړوی چې تر ورومبيو ورځو تيټ شمیر ګڼل کیږي. خو په ارزګان ، هلمند ، غزني او بدخشان کې تردې مهاله لږ رایی شمیرل شوی . پداسې حال کې چې په پاکستان کې دافغان مهاجرو درایو اوه ويشت په سلو کې شمیرل شوی او اویا فیصده دکرزی په ګټه دي ویل کیږي دابه دکرزي دانتخاب دمشروعیت شمیره بشپړه کړي. دملګرو ملتونو داستازی اداري ویاند مانویل دسلوا وایی تر هغه به تاکنې وروستی نتایج اعلان نکړی څو دکاندیدانو دشکایتونو د ارزونې پایله څرګنده نشي. دشنبې ورځې درایو شمیرنې دوروستی شمیرنې پر بنا که کرزی اته لکه نورې رایی وګټی په انتخاباتو کې به بریالی شي.

بی توجهی به معاشات کارمندان ...

همواره در تریبیونها از کمی معاشات با ناگزیری سخن رفت، ولی هیچکس در صدد چاره آن نشده همواره از کسر بودجه ونبود بودجه سخن گفته شد. مگر هیچوقت از خریداری اجناس لوکس کسی شکوه سرندارد.

یکی از اشتباهات یا بهتر گفته شود یکی از نارسایی ها در تثبیت معاشات این بوده که هرگز معاشات با چگونگی قیمت ها به عنوان دو فکتور متناسب با هم در نظر گرفته نشده است.

نتیجه این نارسایی همانا فساد اداری و نارضایتی مردم وبخصوص بیعدالتی تعمیم یافته در دستگاه دولت را به گونه یک اصل مسجل ساخت.

اکنون که دولت تازه یی در حال رویکار آمدن است مردم امیدوارند که دولت آینده نسبت به وضع معیشتی شان بی مبالاتی گذشته را نداشته باشد و با خردمندی این دشواری بزرگ یعنی "غم نان" را که اکثریت کارمندان دولت از آن رنج میبرند، مرتفع سازد.

کشف و ضبط ...

به اساس یک خبر دیگر از ولایت هرات نیروهای اردوی ملی از ولسوالی غوریان در اثر عملیات تصفیوی یک ذخیره گاه بزرگ اسلحه سنگین را بدست اورده اند.

اراده
روزنامه آزاد و ملی نشریه مرکز نشرات افغان
زیر نظرهیات تحریر انتشار میابد
موسس و صاحب امتیاز: سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب "دیدار"
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوي نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین: صدیق الله "صادق" واحمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکز نشرات قیمت یک شماره ۳ افغانی

اراده درویرایش وپیرایش مطالب دست بازدارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجي میر احمد)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۳۶

ERADA Daily

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
eradadaily@hotmail.com Deputy: suhrab "didar"